پوهندوی آصف بهاند

# یو حل بیا د افغان نجونو د تعلیم مسأله

**د نجونو د تعلیم مخنیوی که څوک د ښځینوو د ستر د خوندیتوب له پاره کوي، دا کار ناسم دی، د نجونو د تعلیم مخه نیول په حقیقت کې د خپل هېواد د ښځینوو د ستر لیلامول دي. که نجونې مو تعلیم ونه کړي، تاسو به سبا په خپل کور کې نه ډاکتر ولرئ او نه هم د بلې کومې داسې برخې متخصصه چې د هغې کار ستا د کور د ښځینوو ستر خوندي کوي.**

**که ته په خپل کور، کلي، ښار او وطن کې ښځینه ډاکتره ونه لرې، سبا به ستا د خپل کاله زنانه ناروغه د ګاونډي نارینه ډاکتر پر مېز باندې پرته وي او پردی نارینه ډاکتر به بیا تا ته وایي چې د باندې ودرېږه چې زه خپل مریض معاینه کوم، دا یې یوه بېلګه ده.**

**اوس دې هغه ښاغلي چې د نجونو د تعلیم مخه نیسي، خپله سوچ وکړي چې د نجونو د تعلیم مخه نیول به نورې څه ناوړه پایلې ولري؟**



په افغانستان کې د ۲۰۲۱ ام کال د اګست پر پنځلسمه نېټه باندې د سیاسي ـ نظامي بدلون په پایله کې د طالبانوتحریک حاکم شو او زموږ د ټولنې په ټولو برخو کې ژور او هراړخیز بدلونونه رامنځته شول.

د نوې اداري واکمنانو ویل/ وایي چې زموږ پالیسي بدله شوې ده او موږ به پخوانۍ تېروتنې نه تکراروو، خو په عیني ډول ولیدل شول چې په ځینو برخو کې دوی د خپلې لومړنۍ دورې واکمنۍ د پالیسۍ په پیروۍ سره ځینې مهمې او اساسي برخې د خپلې پخوانۍ پالیسۍ له مخې کنترولوي چې د خلکو له پاره یې ترټولو مهمې برخې له کوره د باندې د ښځمنو د کار او د نجونو د تعلیم مسأله ده. دوی عملاً ښځمنې کار ته نه

پرېږدي او د نجونو د تعلیم مسأله تر اوسه حل نه ده. دې دوو مهمو موضوعاتو د دوی حکومتولۍ ته هم خنډونه پېښ کړي دي او په ټول کې يې خلکو ته هم ګڼې ستونزې زېږولې دي.

د نويو واکدارانو د دې عمل په مقابل کې خلک غلي پاتې نه شول، خپل غږ يې په هر ډول چې و، جګ کړ او د نجونو د تعليم غوښتنه يې وکړه. د افغانستان روڼ اندو د نجونو د تعليم د بيا پيل له پاره مبارزه پيل کړه او اوس هم په مختلفو بڼو دا مبارزه روانه ده. روڼ اندو د همدې مبارزې په لړ کې ګڼې انټرويو ګانې وکړې، نظريات يې څرګند کړل، مقالې يې وليکلې او خپرې يې کړې.

په دې لړ کې د ځانګړې پاملرنې وړ هڅې قلملار ټولنې ترسره کړې دي. د دې ټولنې غړو او ورسره مل د دوی رضاکاره ملګرو دومره کار او تبليغات کړي دي/ کوي يې، چې له تصور نه وتلې خبره ده. ما يې د نجونو له پاره د تعليم حق غوښتنې باندې د ۲۰۲۱ ام کال د سپتمبر پر اولسمه نېټه د **«د زدکړو حق غوښتنه»** ترسرليک لاندې يوه مقاله خپره کړه، د هغې مقالې په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

«قلملار ټولنې دا ځل خپل تعليمي کمپاين داسې موضوع ته وقف کړی دی چې د ټولنې د يوه قشر يعنې نجونو او مېرمنو د زدکړو او تعليم پر برخليک باندې راڅرخي.




قلملار ټولنې د افغانستان د تاريخ په دې حساسه مرحله کې چې يو خوا په هېواد کې د ورستيو سياسي - نظامي بدلونونو په پايله کې واک داسې چا ته په لاس ورغلی دی چې هغوی د د ښځمنو له کار او د نجونو له تعليم سره د مخالفت مخينه لري؛ له بلې خوا همدا نوي واکداران له کورني او بهرني فشار سره مخ دي چې ښځو ته د کار او نجونو ته د تعليم حق ورکړل شي او د هغوی حقونه په هراړخيز ډول مراعات شي او درناوی ورته وشي.

په همدې وخت کې قلملار ټولنې د افغانستان د تاریخ په دې حساس پړاو کې، د خپلو پخوانیو تعلیمي هلوځلو په لړ کې د افغانستان د نوي نسل، په تېره د نجونو تعلیم ته په ځانګړې پاملرنې سره، نوی کمپاین راپیل کړی دی او د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې یې پرمخ بیايي...

د نجونو د تعلیم له پاره د افغانانو د هلوځلو په عمومي بهیر کې، د قلملار ټولنې هڅې له پخوا نه ټولو ته مالومې وې، خو اوس یې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د دوی د تعلیم له پاره یو نوی او ځانګړی کمپاین روان کړی دی.

د قلملار ټولنې مسؤلینو د خپل تعلیمي کمپاین په لړ کې، د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې نه یوازې د وطن له نوي نسل سره، بلکې د هغوی د کورنیو له مشرانو، سپینږیرو او د قومونو له مخورو سره هم کتلي دي، مشورې یې ورسره کړې دي او د هغوی غوښتنو او وړاندیزونو ته یې غوږ اېښی دی او د عملي کولو له پاره یې د خپلو امکاناتو په دایره کې عمل هم کړی دی.

«د خوېندو لپاره د ښوونځیو د خلاصون غوښتنه

قلم لار د سپين ږيرو، مشرانو، ملاپانو سره خبرې او کمپاين روان دی.

ترڅو په ګډه یو ږغ پورته کړو چې مونږ دنجونو لپاره ښوونځي او پوهنتون غواړو.

زرګونو خلکو د کمپاین ملاتړ کړیدی او هیله لرو ټول په همدې کمپاین کې ګډون وکړئ همدا هشتګ درسره وکاروئ.»

#PenPathGirlsEduCampaign
کندهار سپین بولدک کې د قلم لار دنجونو تعلیمي کمپاین
#penpathVolunteers
#penpatheducationcampaign2021
#PenPathKandahar

دا هم د نجونو د تعلیم له پاره د قلملار ټولنې د نوي پراخ کمپاین څو نوې بېلګې:

«د ځوانانو غوښتنه

د نجونو ښوونځي دې ژر تر ژره خلاص سي.

زده کړه مو د ټولو بدبختیو خلاصوي.

#PenPathGirlsEduCampaign

د نجونو ښوونځي بندوئ مه، بلکه نوي نور جوړ کړئ.

نور دې ژر تر ژره د نجونو ښوونځي خلاص سي؛ د مېلونو نجونو اسلامي، بشري حق ورکړئ.
زمونږ سره کمپاین کې برخه واخلئ ترڅو هر افغان د تعلیم حق تر لاسه کړي

#PenPathGirlsEduCampaign




د یو پرمختللي سبال افغانستان لپاره همدا پوه لاره ده چې هر کلي کې ښوونځي ولرو ټول ملت مو باسواده سي.

د نجونو ښوونځي دي ژر تر ژره خلاص او جنګ ځپلو سېمو کې دي نوی ښوونځي پرانستل سي.»

#PenPathGirlsEduCampaign

له مشعل راډيو سره د نجونو د تعليم او ښونځيو او پو هنتونونو د پرانستلو په برخه کې د قلملار ټولنې د مسؤلينو څرګندونې:

«پر کابل د طالبانو د واکمنۍ څه باندې دوه نيمې مياشتې پوره شوي خو لا هم د افغانستان په زياتره ولايتونو کې د نجونو پرمخ د منځنۍ او لوړو زدکړو دروازې تړل شوي دي. په افغانستان کې "قلم لار بنسټ" له کلونو راهيسې د بندو ښوونځيو پرانيستلو لپاره کمپاين کوي. د دې بنسټ فعالانو د طالبانو په واکمنۍ کې هم د پوهې عاملو تر څنګ د نجونو لپاره د ښوونځيو او پوهنتونونو بيا پرانيستلو لپاره کمپاين روان کړی دی. احمد شاه اعظمي د دې بنسټ له مشر مطيع الله ويسا سره پر همدې موضوع خبرې کړې.»

په دې څو وروستيو ورځو کې، تر کورنيو او بهرنيو فشارونو لاندې او د خلکو د بيا ـ بيا غوښتنو په پايله کې طالبانو يو څه نرمښ ښودلای دی او ويلي يې دي چې د نجونو د تعليم مخه نه نيسو او ژر به زمينه ورته برابره کړو. د ۲۰۲۱ ام کال د نوامبر پر دريمه امريکا غږ په يوه رپوټ کې د طالبانو له خولې داسې ويلي دي:

«د طالبانو د حکومت مقامات وايي چې ډير ژر به ښوونځيو ته د نجونو د بيرته تګ په هکله ښه خبرونه اعلان شي، خو د نړيوالې ټولنې څخه يې ددې بهير د مالي تمويل غوښتنه هم کړې.

د طالبانو د حکومت د پوهنې وزارت د پروګرامونو او بهرنيو مرستو مدير وحيدالله هاشمي د رويټرز آژانس ته وويل چې: "انشاءالله مونږ به ټول هيواد او ټول ملت ته ښه اعلاميه ولرو".

ښاغلي هاشمي وویل چې د طالبانو تحریک د نجونو زده کړو ته ژمن دی او اوس بیرته ښوونځیو ته د هغوی د راتګ لپاره په کار بوخت دی. هغه زیاته کړه چې هیڅ یوه ښوونکې له دندې نده لرې شوې او دا "نړۍ ته یو مثبت پیغام دی چې مونږ پر یو میکانیزم کار کوو. مونږ د ښوونځیو او پوهنتون څخه د هغوی په حذف کولو کار نه کوو".

بیا هم ښاغلي هاشمي زیاته کړه چې د نورو دولتي برخو په څیر د ښووني او روزني برخه د اګست په میاشت کې د لویدیځ تر ملاتړ لاندې حکومت د نسکوریدو وروسته د بهرنیو مرستو د ناڅاپي بندیدو په وجه سخت تاوان لیدلی او هغه د مرستو د بیرته پیل کیدو غوښتنه وکړه. هغه وویل: "که هغوی واقعاً غواړي چې نجوني په ښوونځیو کې وویني، اوس باید له مونږ سره مرسته وکړي" .

طالبانو د سپتمبر په ۱۷د هلکانو ښوونځي پرانستل خو د شپږم ټولګي پورته نجونو ته یې ښوونځیو ته د تګ اجازه ورنکړه چې پراخ نړیوال غبرګونونه یې وزیږول.

طالبانو ټینګار کړی دی چې د نجونو د بیرته تګ دمخه په یو طرزالعمل باندې کار کوي چې "د زده کړو یو امن چاپیریال" چې د طالبانو په وینا اسلامي وي، هغوی ته رامنځته کړي...»

خو ستونزه دا ده چې طالبان په هر څه کې چې د کار ځنډ رامنځته شي وایي چې د تخنیکي ستونزو له کبله...

ـ په تجارتي برخه کې تخنیکي ستونزه،

ـ د دولتي مامورینو د معاشونو په برخه کې تخنیکي ستونزه،

ـ او...

د طالبانو تخنیکي ستونزه له نوې تکنالوژۍ سره نه بلدتیا ده. طالبانو په مهمو پوستونو کې هغه کسان ګمارلي دي چې یوازې په دیني مسایلو او جګړې بلد دي، له نوې تکنالوژي سره دوی ډېر واټن لري، پخواني مامورین او هغه کسان چې له کار او تکنالوژۍ سره بلد دي، دوی یې کار ته نه پرېږدي. دوی باید دا ظرفیت پیدا کړي چې د باتعلیمه او با تجربه مامورینو او په کارپوه پرسونل نه استفاده وکړي چې د ژوند درېدلي او راکد حالت کې بدلون او خوځښت رامنځته شي.

د اوس له پاره د خوشالۍ خبره دا ده چې د افغانستان ستونزو ته په کتو سره د نړیوالي ټولني په دریځ کې هم یو څه نرمښت او بدلون رامنځته شوی دی. د تعلیمي مؤسسو د بشپړ پرانستل کېدو او نجونو ته د تعلیم حق د قایلېدو په پار، د ملګرو ملتونو د یونیسف اداري دا منلي ده چې د افغانستان د ټولو ښونکو معاشونه به په دې شرط ورکوي چې طالبان به لاسوهنه نه په کې کوي. په همدې باب د بي بي سي په یوه تازه رپوټ کې داسي راغلي دي:

«د ملګرو ملتونو د ماشومانو لپاره وجهي صندوق (یونیسف) یوې چاروګي اعلان کړی چې دغه اداره په داسي یوه سیستم کار کوي چې له مخې یې د افغان ښوونکو میاشتني معاشونه په مستقیم ډول ورکړل شي.

د یونیسف دا ګام په داسي حال کې اخیستل کېږي چې نړیوالي ټولنې د پخواني حکومت له پرځېدو او د طالبانو له واک ته رسېدو سره طالبانو ته د پیسو په لېږد بندیز لګولی او د افغانستان پانګه کنګل ده چې اوسمهال د طالبانو حکومت د دولتي کارکوونکو د معاشونو په ورکولو کې له ستونزو سره مخامخ دی.

د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق د ښووني او روزني مشرې جينټ ويګلر رويټرز خبري اژانس ته ويلي، چي دا اداره به په افغانستان کي د دولتي ښوونځيو ټول ښوونکي په يوه نوي سيستم کي شامل کړي چي له مخي به يي د دوی مياشتني معاشونه د حکومت له لاسوهني پرته په مستقيم ډول ورکول کېږي.

نوموړې ويلي، "افغانستان کي د نجونو د زدکړې ملاتړ لپاره تر ټولو ښه لار دا ده چي په افغانستان کي له ښوونکو او ښوونځيو سره مرستي وشي."

د اغلي ويګلر په وينا دغه سازمان په افغانستان کي له مرستندويانو غوښتي چي افغان ماشومان هېر نه کړي.

د بشري مرستو د سازمانونو په وينا په افغانستان کي د طالبانو له خوا د واک ترلاسه کولو سره د دغه هېواد د روغتيا او پوهني سکتورونه تر ټولو زيات اغېزمن شوي دي...»

د افغانستان د تعليمي سيستم د ښه کېدو له پاره د نړيوالو دغو امکاناتو نه بايد اعظمي استفاده وشي. که د نوې ادارې چارواکي د خپلو وچو اصولو له مخي که څه خنډ بيا رامنځته نه کړي، دا خو ډېر لوی چانس دی چي زموږ د وطن نوی نسل يو ځل بيا د ښونځي او ټولګي په چاپېرياڵ ته ورننوزي او د علم زدکړې ته ګونډه ووهي.

ما څو ورځي مخکي (۲۰۲۱ ام کال د سپټمبر پر اتلسمه) د نجونو د تعليم د مهموالي په باب د **«هيله ده چي د نجونو د تعليم مخه څوک ونه نيسي»** ترسرليک لاندې يوه مقاله خپره کړه، د هغې مقالي د پای دا څو کرښي بيا هم رااخلم:

«د نجونو د تعليم مخنيوي ترخه تجربه خو د ااا مسؤلينو په نويمه لسيزه کي کړې وه، دوی ته، خلکو ته او وطن ته يي پايله مالومه شوه چي منفي وه، نو بيا هغه ناکامه او ترخه تجربه بايد تکرار نه شي. زه فکر کوم چي د ناکامو تجربو د تکرار ټول تاوان خلکو او ټولني ته رسېږي، خلک او ټولنه مه تاواني کوئ!»